Northumberland
County Council

# د لویانو ټولنیزه پاملرنه

## په نارتمبرلینډ کې د پاملرنې ، ملاتړ او اړتیاوو سره سم د لویانو سره مرسته کول










**د نورو معلوماتو لپاره زموږ ویب پاڼه وګورئ:**

**nland.cc/AdultSocialCare**

# د لویانو تولنیزه پاملرنه څه ده؟

د لویانو ټولنیزه پاملرنه د خلکو په خپلواکۍ او خوندي ساتلو باندی تمرکز کوي. د مختلفو سازمانونو او اشخاصو لخوا ملاتړ چمتو کیږي ترڅو اړمنو خلکو سره مرسته وکړي چې خپله خپلواکي او هوساینه وساتي.



دا کولای شي په دې کې مرسته وکړي:

- په کور کې په خپلواک ډول ژوند کول.
- خوندي او ښه ډول په خپل ځای کی پاتې کیدل.
- د وتلو او په اړه ملاتړ چمتو کول.
- ورځني کارونه (لکه د جامومینځل، د جامې اغوستل، یا خواړه خوړل)

ډیری خلک کولای شي هغه مرسته ترلاسه کړي چې دوی ورته اړتیا لري لکه د کورنۍ او ملګرو څخه، یا د دوی د ځایی ټولنې څخه. نور په شخصي توګه پیسې ورکوي ترڅو هغه مرسته ترلاسه کړي چې دوی ورته اړتیا لري، د بیلګې په توګه د کورنې کارونو لپاره چې دوی ته یې ترسره کول ستونزمن ښکاري. تاسو کولای شئ زموږ په ویب پاڼه کې ستاسو په سیمه کې د ملاتړ د ډلو او خدماتو په اړه هم معلومات ومومئ:

nland.cc/LocalSupport

# د ټولنیز کار ملاتړ

زموږ ټولنیز کارکونکي او د ټولنیز کار ملاتړ کونکي کولای شي ملاتړ چمتو کړي په شمول د:

- د خلکو د اړتیاوو، قوتونو او د مطلوبو پایلو ارزونه ترسره کول.
- د بدلون راوستلو او د ستونزو د حل کولو کې د مرستې لپاره له خپل ځان او خپلې کورنۍ سره مناسب او وړ کار ترسره کول.
- د ملاتړ تنظیمول یا نورو خدماتو او ادارو ته سپارښتنې کول یا د هغوی راجع کول.

# د یو چا پالنه - پاملرنه کوونکي



پالونکی هغه څوک دی، په شمول د ماشومانو او لویانو، چې د کورنۍ د غړي، ملګري پالنه کوي چې د خپلې ناروغۍ، د بدن د کمزورتیا، معلولیت، رواني روغتیایی ستونزې یا په نشه یی توکو د روږدي کیدو له امله مرستې ته اړتیا لري، او د دوی له ملاتړ پرته خپل ژوند پرمخ نشي وړای.

که چیرې د یو چا پالنه ستاسو لپاره ستونزې رامینځته کوي، نو تاسو ممکن په خپل حق کې د ملاتړ د ترلاسه کولو مستحق یاست.

# د حادثې یا ناروغۍ وروسته مرسته

که تاسو کومه جدي حادثه کړې وی یا ناروغي لرئ، نو ممکن تاسو په کور کې لنډ مهاله ملاتړ ته اړتیا ولرئ ترڅو ستاسو په بیا رغیدو کې له تاسو سره مرسته وکړي.

موږ کولای شو ستاسو په خپل کور کې د لنډ مهاله ملاتړ د خدماتو له لارې تاسو ته د وخت محدوده پاملرنه او بیارغونه چمتو کړو.

# تجهیزات او موافقت



توکی او وسایل کولای شي ستاسو لپاره ورځني کارونه یو څه اسانه کړي.

ډیری ګټور توکي نسبتا ټیټ لګښت لري لکه د نل بدلونکي یا فیټ کوونکی توکي، خبرې کونکي فعال لیدونکی (ساعتونه)، د شیانو لوی ښودونکي (رزه بین)، او اوږده لاس لرونکي اسفنجونه.

که تاسو ټولنیز پاملرنې یا روغتیایی ته اړتیاوې لرئ، نو تاسو کولای شئ زموږ د ګډو تجهیزاتو او پورونو د خدمتونو څخه وړیا تجهیزات په پور ترلاسه کړئ. د تجهیزاتو اړتیا د روغتیایی یا ټولنیزی پاملرنې د مسلکي کسانو لخوا ارزول کیږي.



## د ټيلی کيير او الارم خدمتونه

د ټولنې د الارم خدمتونه په نورتمبرلينډ کې د يو شمير چمتو کونکو سره شتون لری تاسی کولای شی ترلاسه يی کړي.
د نارتمبرلينډ ټيليکير، د شورا يوه خدمت دی، چې د ټولنې الارمونه (خبر ورکوونکی) او ډير پرمختللي 'ټيليکير' سينسرونه وړاندې کوي، چې د انفرادي اړتياو سره سمون لري.





## ستاسو په استازيتوب خبرې کول

مدافع وکيلان خپلواکه مسلکي کسان دي چې دوی د هغو خلکو سره کار کوي چې د خبرو اترو او/يا په پوهيدو کې ستونزې ولري. دوی خلکو سره د دوی د انتخابونو په پوهيدو کی، د دوی د حقونو په پوهيدو کی او د دوی د نظرونو په څرګندولو کې مرسته کوي.

## د پاملرنې او ملاتړ لپاره پيسې ورکول

ټولنيزه پاملرنه وړيا نه ده، او ډيری خلک بايد د خپلې پاملرنې او ملاتړ د خدماتو لګښت ورکړي.
دا ستاسو د مالي وضعيت پورې اړه لري، شورا ممکن د مالي ارزونې پراساس د لګښت لپاره مرسته وکړي، کوم چې په پام کې نيول کيږي چې تاسو څومره د تاديې کولو توان لرئ.

## د کور پاملرنه




هغه خدمات چې تاسو يې بايد پيسې ورکړئ په دې کې شامل دي:
د کور پاملرنه د خدماتو يوه لړی ده چې د خلکو سره د دوی په خپل کور کې د ملاتړ لپاره ترسره کيږي.
په دې کې د خلکو سره د فعال پاتې کيدو او په خپلو ټولنو کې د برخې اخيستو لپاره ملاتړ هم شامل کيدای شي.

## د استوګنې په کورونو کی د طبی مرستی لخوا چمتو شوې پاملرنه



د پاملرنې کورونه د هغو خلکو لپاره پاملرنه او استوګنځی چمتو کوي چې د لوړې کچې ملاتړ ته اړتيا لري.
د استوګنې کورونه په اساسي ډول پاملرنه او ملاتړ چمتو کوي. دا کيدای شي د جامو اغوستلو يا د شپې له خوا د د ټيلفون له لاری د چا سره د اړيکې په نيولو کې هم مرسته وي.
د طبی خدمتونو کور ۲۴ ساعته شخصي او وړ طبی پاملرنه وړاندې کوي.

## د ورځې لخوا په مرکزونو کې ملاتړ



د لويانو لپاره د ورځې لخوا مرکزونه کولای شي فعاليتونه، ټولنيز ملاتړ، او ملګرتيا د روزل شويو کارمندانو او رضاکارانو په ملاتړ سره تاسی ته وړاندې کړي.
ځينې ورځنې مرکزونه د زړو خلکو لپاره دي، په داسې حال کې چې د هغهو افرادو لپاره هم خدمتونو وړاندی کوی چې معلوليت لرونکو لويان وی يا نور کوم بل ډول د روغتيايی شرايطو او يا ستونزو سره مخ وی نو د دوی لپاره هم خدمتونه شتون لری.

## د خلکو خوندي ساتل

که تاسو د يو زيان منونکي بالغ په اړه انديښمن ياست چې په نارتمبرلينډ کې د غفلت يا ناوړه ګټه اخيستنې د خطر سره مخ دی، يا د لويانو د ټولنيز پاملرنې په اړه کومه پوښتنه لرئ، نو په 01670536400 ټيلفون شميره باندی له موږ سره اړيکه ونيسئ.

**که چيرې سمدستي خطر موجود وي، نو موږ ته د زنګ وهلو څخه دمخه سمدلاسه 999 ټيلفون شميری ته زنګ ووهئ.**

# زنګ ووهی

# 01670536400

که تاسو غواړئ له چا سره خبرې وکړئ، تاسو کولای شئ د بالغو کسانو د ټولنیز پاملرنې سره د تیلفون له لارې په 01670536400 شمیری اړیکه ونیسئ.
زموږ کارمندان به تاسو ته معلومات او مشوره درکړي. موږ به تاسو ته د ټولنیزو ډلو او ستاسو په سیمه کې د شته ملاتړ په اړه په کافی اندازه معلومات درکړو.
دوی به تاسو ته د نورو سازمانونو په اړه هم معلومات درکړي چې کولای شي ستاسو سره مرسته وکړي.
تاسو کولای شئ موږ سره د بریښنالیک له لارې هم اړیکه ونیسئ:

onecall@northumberland.gov.uk

که تاسو د خبرو کولو یا اوریدلو ستونزې لرئ، تاسو کولای شئ د ریلي یوکی په کارولو سره له موږ سره اړیکه ونیسئ.

د تیلفون شمیره: 0180001 01670536400